كله چې به رسول الله صلى الله عليه وسلم د شپې له خوبه پاڅېد، نو په مسواک به يې خپله خوله پاکوله

له حذيفة رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: كله چې به رسول الله صلى الله عليه وسلم د شپې له خوبه پاڅېد، نو په مسواک به يې خپله خوله پاکوله.

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به زياتره مسواک واهه او امر به يې پرې کاوه، او په ځينو وختونو کې به يې پرې تاکيد کاوه لکه: د شپې تهجدو ته پاڅېدل، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به مسواک واهه او خپله خوله به يې پاکوله.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3063